## الدرس السابع
## واجبات الصلاة

## ووم درس
## په مانځه کښې واجبات

١: ټول تکبيرات بغير د اولنى تکبير نه ، ځکه هغه ركن دی (تكبيرةالاحرام)
٢: (سبحان ربي العظيم) كم از كم يوځل په ركوع كښې وئيل.
٣: (سمع الله لمن حمده) د امام او مقتدى دواړو دپاره ، د ركوع نه د سر پورته كولو په وخت كښې .
٤: (ربنا ولك الحمد) د ركوع نه د سر پورته كولو نه پس .
٥:(سبحانه ربي الأعلى) وئيل اګر كه يوځل ولى نوى .
٦ : (رب اغفرلى، رب اغفرلى) وئيل د سجدو مينځ كښې .
٧: اولنى تشهد ووئيل.
٨: او د اولنى تشهد دپاره كيناستل.

د مانځه اركان:

١: القيام ، فرضى مونځ كښې أودريدل دقدرت والو دپاره واجب دی ، او هرچى نفل مونځ دي ، په هغي كښې قيام واجب ندي، ليكن په ناسته مونځ كښې به نيم اجر وى قيام په مقابله كښې .
٢: اولني تكبير (تكبيرةالاحرام) .
٣: سورة فاتحه لوستل په هرركعت كښې .
٤: هرركعت كښې ركوع كول.
٥: ركوع كښې اعتدال كول.
٦: هرركعت كښې په اوو(٧) اندامونو باندى سجده كول .
٧:د سجدو مينځ كښې كيناستل.
٨ : ټولو افعالو كښې اطمينان كول .
٩: آخرى تشهد وئيل.
١٠: د آخرى تشهد دپاره كيناستل .
١١: په نبى كريمﷺ باندى درود ووئيل
١٢: سلام ګرځول .
١٣: اركان په ترتيب سره كول .